لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران

۲۰۱۸/۱۲/۲۸

د جګړې ځناور

The Beast of war

پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل څلوېشتمي کلیزې په اړه د یوه بیساري امریکایي، سینمایي، ډرامټیک جنګي فلم یادونه .

د جګړې ځناور په نامه فلم د پخوانۍ شوروي اتحاد د پوځي یرغل په وړاندې د افغانانو جهاد او د خپلواکۍ جګړه په ډیره ښه توګه انځور کړی ده. په ۱۹۸۸ کلونو کې دا فلم په لومړۍ ځل د نړۍ په سترو سینماګانو کې ننداري ته وړاندې شوی. د جګړې ځناور فلم د دریو څلور میاشتو څخه ډیر د امریکا، اروپا، اسیا او استرالیا په سینماګانو کې ننداري ته کیښودل شوی وه. کله چې دا فلم په هر سینما کې ښودل کیدو، د سینما هر ټایم به د ننداړچیانو ډکې وه. دغه فلم اوس هم کله نا کله په اروپایي ټلویزیونو کې خپریږي او په انټرنیټ کې د ډې وي ډي په بڼه کې پلورل کیږي. د جګړې ځناور فلم د امریکا هالیوډ کولمبیا پیکچر فلم سټوډیو کې چمتو شوي دی.

د The Beast of war فلم داستان لیکوال ښاغلی William Mastrosimone دی. په ۱۹۹۸ کال کې د جګړې ځناور فلم د کلفلنډ فلم نړیوال فستیوال کې Cleveland International Festival جایزه هم ګټلې ده.

د فلم داستان د افغانستان په سویل کې پر یوه پښتون مېشې کلي باندې د شوروي اتحاد سور پوځ د ټانکو او زغرولو ځواکونو د یوه لښکر برید پر بنسټ جوړ شوي دی.

د فلم پروډیوسري او ډایرکټري چارې Kevin Reynolds سر ته رسولې دي. ده نور ډیر ښه ښه هنري سینمایي فلمونه جوړ کړي دي، لکه Waterword “ The Count of Monte Cristo ,Robin Hood

نوموي د هالیوډ د ګرانبیو فلمونو یو نامتو او وتلي ستوري پیژندل شوي دی. د جګړې ځناور په فلم کې د هالیوډ ډیرو نورو مشهورو څېرو، نوموتي لوبغاړو او د نړیوالي سینما بریالیو اکټورانو هنري رول لوبولي دی.

د فلم پرودسر په دې فلم کې یوه هڅه کړې، څو د افغانانو د خپلواکۍ جګړې واقعیتونه، سرښندتي، ایماني، غیرتي جذبې او د خپل پلارنۍ هیواد د ساتلومسوولیت او خپلې مورنۍ خاورې سره د مینې احساس ته په کتو سره داسې ښوول شوي او انځور شوي دی، لکه څنګه دا جګړه په ریښتني توګه همداسې روانه وه. د جګړې ځناور فلم داستان په افغانستان کې د افغان جهاد او د خپلواکۍ جګړې ستونزمن او نا اندواله حالات انځور وي. که د هالیوډ فلمونو کمپنۍ لس مشهور نوموتي، پیژندل شوي، فوق العلاده، ګرانبیه جنګي فلمونه جوړکړي وي، یو ېې همدا د جګړې ځناور فلم دی، تر دې مخکې بل هیڅ څوک په دې بریالي شوی نه و، څو د افغانانو د خپلواکۍ جګړه د یو فوق العلاده حماسي جنګي فلم جوړولو په بڼه کې په داسې بیساري ډول ننداري ته وړاندې کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که سړي د جګړې ځناور فلم ته ښه ځير شي، دا فلم د جګړې ضد يو فلم دی. فلم ننداره چی ته ښيي، چې څنګه يوه بده، مضره او ځناوره منفي څېره په جګړيزو ډيرو سختو شرايطو کي څه ډول پوچ او بې مانا پريکړې کوي.

د هاليوود سينما په نړۍ کي، مشهور، خورا نامتو، وتلي، ډير ګرنبيه، خونړي، ويره ونکي جنګي فلمونه لکه ,, Platoon “ Apocalxpse Now ,, جوړ کړی دي.

د The Best of War Film يا د جګړې ځناور فلم پر نړيوال کچ د همدې لوړي ګرانبيو ګټګوري او له ډيرو عالي تخنيکي په زړپوري جنګي فلمونو څخه شمېرل کيږي.

د جګړې ځناور په نامه د فلم کيسه د افغانستان په سوېل کي د پخوانۍ شوروي اتحاد وسله وال يرغلګر سور پوځ د يوه T /55 ډوله ټانک کوم چې د خپل ټانک له قطعي څخه بې لارې کيږي او دغه ټانک د جګړې په ډګر کي له حيرانتياوو ډک، د هيجانه ډک، له ويرې ډک او غير معمولي استيسنايي برخليک سره مخامخ کيږي. همدې روسي ټانک ته د افغان مجاهدينو له لوري د ځناور نوم ورکول کيږي. فلم تر پايه پر همدې ټانک او د هغه پينځه واړه ټانکستانو باندې راڅرخيږي. دغه ټانک په دې فلم کي خورا مهم رول لوبوي. دا فلم د افغان مجاهدينو او د شورويانو بې رحمه جګړې يو ريښتني انځور ننداره چيانو ته وړاندې کوي. دا فلم ننداره چی ته د شوروي اتحاد نړيوال امپرياليستي او هژمونيستي پلانونه او خوبونه او د يوې دوديزه لرغوني افغاني اسلامي ټولنې ځانګړي ځانګړتياوې ننداري ته په پرتلېزه توګه وړاندې کوي. په دغه فلم کي د ډايريکټر ځانګړي سينمايي هنري استعداد او بريالېتوب په دې کي ليدل کيږي، چې د جګړې ځناور فلم جوړونکی د فلم په جوړښت کي د افغانانو او شوروي اتحاد سور پوځ نا ډوله او بې رحمه خونړي جګړه په ډير ښه او ريښتني بڼه کي د سينما پر پرده ننداړچيانو ته له هيجانه ډکو شيبو کي انځور وي.

د فلم ډايريکټر يوه بله ځانګړي ځانګړنه او يوه ډيره ښه پريکړه دا هم ده، چې په فلم کي ټول روسي سرتېرې په انګريزي ژبه خبرې کوي او افغان آزادي غوښتونکی جنګيالي په خپله مورنۍ ژبه پښتو خبرې کوی. په دې مانا فلم کي دوه ژبې انګليسي او پښتو کاورول شوي دي.

د جګړې ځناور فلم مرکزي کېسه او تر ټولو مهم اړخ د افغانانو د پښتو او پښتونوالۍ مهم اصول او پر نړيوال کچ پېژندل شوي کانسېپټونه لکه ميلمستيا، بدل او د ننواتي يا پناه اخيستلو موضوع جوړوي. دا ملي نورمونه او ارزښتونه زمونږ د افغاني دوديزه ټولنې خورا مهم ارزښتونه دي، ان د دښمن په سترګه او فکرونو کي دا ارزښتونه ډيره عالي متمدنه او پرمختللي بريښي. په دې فلم کي دا عالي ارزښتونه په ډيره ښکلي او لنډه بڼه کي ځای کړل شوي دي. د فلم ډايريکټر په فلم کي د سور پوځ ځناوره وحشي ځيره او خونړی ظالمانه کړنې هم ننداره چيانو ته په ډيره ښه او روښانه توګه ورښيي. فلم دا هم ښيي چې روسيان څنګه د افغانانو د وينو تږي دي. د دوی کلي او کورونه ورانوي، په ډيره بې رحمي سره بې ګناه کليوال واړه او زاړه په ډله ييزه توګه وژني.

د فلم اصلي لوبغاړی Steven Bauer دی، دی په دې فلم کي د تاج په نامه د يوه ميرنۍ دروند افغان مجاهد رول لوبوي. ښاغلی ستيون به ور د تاج په رول کي په پښتو ژبه خبرې کوي. ستيون به ور د هاليوود په دوو نورو نوموتي فلمونو کي ډير ښه عالي ځليدلي او لوبدلي دی. دی پر نړيوال کچ د هاليوود په فلمونو کي يوه پېژندلي شوي بريالي څېره ده او نومورۍ د فلمونو په منفي رول لوبولو کي مشهور نوموتي غوره شوي ستوری دی، د بيلګې په ډول د هغه مشهور فلمونه (Scarface, Thief Of Hearts) د جګړې ځناور فلم کي دی خپل مثبت رول ډير عالي لوبوي.

د جګړې ځناور فلم بل ښه تکړه لوبغاړی د ټانک قومندان Georg Dzunda دی، دی د روسي جنرال داسکال رول لوبوي. دی په دې فلم کي د يوه ډير ظلم، بې رحمه او ان د ليونتوب تر کچې يو خونخوره سادېست قوماندان رول

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لوبوي. د ټانک قوماندان ګیورګ هم د هالیوډ سینما یو وتلي بریالی لوبغاړی دی. دی په دې فلم او په خپل رول کې دومره ښه لوبیږي، چې دی د خپلو ناوړه ظالمانه کړنو له امله د فلم نندارہ چیانو بالکل بد راځي. دی په فلم کې د ځان په هکه وایي، کله چې دی اته کلن وه، مجبوره وه، څو په دویمه نړیواله جګړه کې برخه واخلي، دی غواړي په دې خبرو ځان د خپل ټانک ملګرو سرتیرو ته د یوه ډیر تجربکاره جنګي قوماندان په څېر وروپیژني.

فلم دا هم ښیي چې څنګه د پخوانۍ شوروي اتحاد د یرغل له امله یوه ټولنه په بنسټیز ډول څېرول او سوځول کیږي، څنګه په یوه ټولنه کې ټولنیز لرغوني ارزښتونه او نورمونه لمنځ وړل کیږي. څنګه د روسي زغروالي قواوي، توپونه، شوبلي او مخربي وسلې د افغانستان د ښکلي طبیعت ښکلا او چاپیریال لمنځه وړي. په دې فلم کې د طبیعت د ښکلا عجیبې منظرې هم ښوول کیږي، لوې لوې دښتې او هسک هسک غرونه هم ښوول کیږي.

د دې فلم زړه وړنکي ښکلي موزیک د Von Mark Isham لخوا په ډیره ځانګړې په زړه پورې بڼه کې چمتو شوي دی. د فلم موزیک د فلم له غیر معمولي شیبو، انځورونو او د روښاني او شپې فضا سره ډیره ښه همږغۍ لري . زما په اند، دغه فلم د هالیوډ کولمبیا پیکچیر کمپنۍ یو ډیر ستر هنري او حیرانوکي شهکار دی.

په نولسوه اتیایمو کلونو کې کله چې پخوانۍ شوروي اتحاد پر افغانستان پوځي یرغل وکړو، افغان جنګیالیو هڅه کوله د خپلو محدود پوځي وسایلو سره سره د یرغلګر دښمن د پر مختللي وسلو په وړاندې وجنګیږي. د افغان جهاد په پیل کې په کلیوالي سیمو کې افغان جنګیالي په وسلو سمبال شوي نه وه. نیول شوي سیمې به لاس په لاس کیدې. د جهاد په لومړیو کلونو کې د افغان مجاهدینو په لاسونو کې زړې وسلې او توري د افغان او انګلیس د جګړې له مهاله کومې چې دوی په کورنو کې ساتلې شوې وې شتون درلود.

په ۱۹۸۸ کال کې د امریکا په متحدو ایالاتو کې د افغانستان جهاد او خپلواکۍ په اړه د جګړې ځناور په نامه یو جنګي فلم جوړ شو. دا فلم په افغانستان کې د شوروي اتحاد پوځي تېرې، جنګي جنایات او وحشي ظالمونو انځور وي. دا فلم په افغانستان کې د پخوانۍ شوروي اتحاد د اشغال دویم کال ښیي.

دا فلم په ۱۹۸۱ کلونو کې د افغانستان په سویل کې په یوه پښتون میشي کلي باندې د شوروي اتحاد د سرو لښکرو د ټانکونو یوه لښکر برید ښیي. روسي پوځیان په کلي کې ټول وژني تر سره کوي، په تیره بیا نارینه جنګیالي وژني. د کلي ښځې د ځان دفاع لپاره پر روسي ټانکونو د تیرو او لرګیو بریدونه کوي. د همدې جګړې پر مهال یو افغان جنګیالی په دې بریالي کیږی، څو پر یو روسي ټانک باندې د مولوتف کوکټل بوتل ګذار وکړي. روسي ټانک اور اخلي. د ټانک ظالم قوماندان غواړي همدې بریدګر مجاهد ته د برید کولو له کبله سخته سزا ورکوي، څو د نورو بریدوتو مخنوي هم کړي وي. په فلم کې د ټانک قومدان نوم داسکال دی، دی د ټانک یو ډیر مستبد، ظالم، بې رحمه، سرتمبه او خپلسرۍ Psychopath قوماندان دی. ده ته د انسان وژل هیڅ مانا نه لري. د ټانک قوماندان داسکال خپل یوه ټکړه او پوهه سرتېرې ته د کونستانتین په نامه امر کوي، څو دغه نیول شوي د ټانک زنځیر ته ور څېرمه پر ځمکه پروت، بې وسلې او بې دفاع مجاهد باندې ټانک ور وخیږوي. کونستانتین د ټانک دریور، زړه نا زړه د خپل قوماندان امر پلي کوي، قوماندان د کونستانتین په زړه نا زړه توب باندې پوهیږي او سمدستۍ د ټانک قوماندان له کونستانتین د ټانک دریوري اخلي او بل سرتېرې ته ورکوي. کله چې د شوروي وسله وال پوځیان له کلي وځي، دوی د کلي کورنو ته اور اچوي او د کلي کوهیانو ته د سیاتید زهرجن توکي ور غورځوي .څو ژوندي پاتې شوي کلیوال د کوهی د ځښاک اوبو د ځښلو له امله ووژل شي. کله چې د روسي ټانکونو لښکر له کلي بیرته راګرځي، هممهاله د ټانک له قطعي څخه یو ټانک بیلیږی او د یو نامالوم او ناپیژندل شوي سیمې په لوري حرکت کوي او په هماغه سیمه کې بند پاتې کیږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه ټانک د همدې وران شوي، سوځول شوي او له خاورو ايروسره برابر کړل شوي کلي د ژوندي پاتې شويو ځوانانو او جنګياليو له لورې تعقيب کيږي، څو ټانک لمنځه يوسي او خپل بدل تيرې واخلي.

په همدې بهير کې د ټانک قوماندان او د سرتېرې کونستانتين ترمنځ اړيکې يا حالات خړپړيږي او د دوی ترمنځ د اړيکو ترينګلتيا شدت مومي. ورسته له هغه کله چې د ټانک قوماندان د کونستانتين ملګري صمد د جاسوسۍ په تور تونوي او بيا بې ګناه وژل کيږي. سرتېرې کونستانتين خپل قوماندان د دې نا قانونه کړنې له امله د شوروي اتحاد يوې جنګي محکمې ته د ودرولو ګواښ کوي او د دې پېښې راپور هم ليکي. د ټانک قوماندان خپلو دوو نورو سرتېرو ته امر کوي، څو د وسلو په زور کونستانتين ونيسۍ او بې وسلې کړۍ. لنده دا چې د هغه لاسونه تړل کيږي، توپک ترينه اخيستل کيږي او د وژل کيدو لپاره د دښمن په سيمه کې پرېښودل کيږي. کونستانتين مجاهدينو ته لاس تړلي په لاس ورځي. د کلي پښتنې کليوالي ښځې کونستانتين په همدې حالت کې مومي. که چې کليوالي ښځې پر لاس تړلي کونستانتين باندې د تېرو وارونه کوي. نابېره کونستانتين د ننواتي غړ پورته کوي او د افغانانو څخه د پناه غوښتلو هيله کوي. هممهال د پېښې ځاي ته ځيني تازه رسيدلي افغان جنګياللي له قهر او غوسې ډک رارسيږي او غړ کوي، وايي ننواتي د افغانانو لپاره دی. يو سپينګيرې افغان مجاهد او د افغان جنګياليو مشر تاج محمد خان بيا وايي ننواتي د ټولو انسانانو لپاره دی. ننواتي کوئ. تاج محمد خان په فلم کې د يو ريښتني، صادق، د قوي ايمان او ارادې خاوند مسلمان افغان رول لوبوي. دی خپل ټول کړه وړه د افغانيت او اسلاميت د اصولو په چوکاټ کې ترسره کوي. تاج د همدې يرغلګر روسي دښمن سرتيرې کونستانتين سره چې د افغانانو په اسارت کې دی ملګري کيږي.

کونستانتين له وړاندې د خپل افغان ملګري صمد څخه د شطرنج د لوبې پرمهال د پښتنو دود او دستور کړه وړه او د پښتو او پښتونوالۍ اصولو ځيني نورمونه زده کړي وه. صمد په شوروي اتحاد کې لوړې زده کړي کړي، دی يو ښه موتقد هيواد پال مسلمان افغان دی. کونستانتين له صمده د پښتنو د پښتونوالي د عزت او غيرت دري مهم کوډکسونه زده کړي وه، لومړۍ ميلمستيا، دويم بدل او دريم ننواتي، صمد کونستانتين ته وايي کله چې په پښتنو کې د ننواتي غړ وشي، پښتانه مجبوره کيږي، ننواتي وکړي. هر څوک چې د ننواتي غړ وکړي، ده ته د خوندېتوب لپاره پناه ورکول کيږي او د هغه د سر ساتنه هم کيږي، کونستانتين بيا پوښتنه کوي وايي، آيا دا ننواتي د ټولو لپاره ده ؟ صمد وايي، هو د ټولو لپاره ده، کونستانتين بيا پوښتنه کوي، ننواتي ان د دښمن لپاره ده؟، صمد بيا وايي، هو، د ټولو لپاره ده، کونستانتين، بيا پوښتنه کوي، کله چې زه ستا ورور ووژنم او تا د بدل اخيستلو لوړه کړي وي، زه تا ته په ننواتي درشم، ته ننواتي کوې ؟ صمد ځواب ورکوي، هو زه مجبور يم چې تا ته پناه درکړم او د ستا د سر ساتنه وکړم، تا ته اوبه او ډوډۍ درکړم، کونستانتين سر ښوروي او وايي، دا خو په فوق العاده او حيرانونکی ډول د يوې متمدنې ټولنې سوچ دی، ان د ننۍ تمدنه هم لوړ او پرمختللي فکر دی. صمد ور ته کور ودان هم زده کوي.

کونستانتين د خپل قوماندان د نارو کړنو له امله له هغه څخه سخته کرکه لري او له دې امله غواړي د افغان مجاهدينو سره د ټانک په لمنځه وړلو کې مرسته وکړي. کله چې کونستانتين په خپل اسارت کې د افغانانو د ميلمه پالنې او د ننواتي کولو احساس په افغانانو کې وويني، دی له ځانه سره دا پريکړه کوي، څو دغه روسي ټانک د افغان مجاهدينو سره په ګډه تعقيب کړي او غواړي لمنځه يوسي. کله چې کونستانتين، تاج او افغان جنګياللي ټانک له ډيرو ستونزو سره سره لمنځه يوسي. کونستانتين په ځای د دې خپل پخواني د ټانک ملګري په سړه سينه او همدلته په بې رحمه ټوګه ووژني لکه څنګه چې دوی همداسي له ده سره کړي وه. دی خپل ملګري ښې او پريږدي چې لاړ شي. کونستانتين د خپلو نويو افغان متحدينو څخه د بدل نه اخيستلو او ننواتي کولو هيله هم کوي. د کلي يو شمير نا خبره ښځې سره د دې ښې په دې بريالی کيږي، څو د ټانک قوماندان داسکال د ټېښتې پر مهال را ونيسي او ووژني. د ټانک دوه نور سرتېرې کولونيکوف او کمينسکي په تيښته بريالي کيږي. کله چې په نابېره توګه د کلي ښځې د مړاوي موسکا سره او اخيستل شوي بدل سره را څرګندې شي. کونستانتين او تاج ته د وژل شوي ټانک قوماندان جامي يا پوځي اونيفورم ورواچوي، تاج په چيغه او لوړ غړ وايي ولې ؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا مهال خبره له خبري تيره وي، خو سرتېري کونستانتين يوې تازه مرستي ته راسيدلي روسي هيلکوپتري ته سره د افغان د مقاومت يوه توپک سره ورخيږي، کوم چې تاج محمد هغه ته د يادګار په توګه ډالۍکړی وه. کونستانتين بيرته خپل هيواد شوروي اتحاد ته ځي.

سرتيري کونستانتين د خپل ظالم ټانک قوماندان تر امر لاندې نه وي، هغه تل د خپل ضميرتر قوماندې لاندې عمل کوي. دی تل په خپلو فکرونو کې د شوروي د جګړې په مانا او مفهوم باندې شکونه او تردیدونه لري. دی له ځانه سره وايي، ولې دی دا ډول ظالمانه، بې رحمه او چټلي جګړې لپاره افغانستان ته راغلي دی او له ځانه پوښتنې کوي، ولې ماسکو دې لرې پردي هيواد ته ليږلي دی؟ دی دلته څه کوي او په کومه خوا کې اوس ودريږي. کله چې ده ته پته ولګيده، چې په دې جګړه کې افغانان په حقه دي. د فلم په پای کې کونستانتين خپل د ټانک قوماندان ته وايي، افغانستان ستالينګراد نه دی، چيرته چې روسان د جرمنانو په وړاندې د خپلواکي لپاره جنګيدل. د افغانستان دی، چا داسې فکر کولو، دا ځل به موږ دلته د جرمنانو په ځير ظالمونه کوو، لکه څنګه چې دوی پر موږ په دويمه نړيواله جګړه کې تر سره کړل. زه غواړم تاسو ووينم، چې تاسو دا جګړه څنګه ګټې ؟ د جګړې ځناور فلم همدلته پای ته رسيږي.

د جګړې ځناور فلم د انګريزي شاعر Rudyard Kiplings د شعر په نامه د The Young Britisch Soldier پيل کيږي، زه خپله ليکنه د همدې شعر په څو بيتونو کې پای ته رسوم.

When you re wounded and left on Afghanistan s plainns

And the women come out cut up what remains

Jest roll to rifle and blow out your brains

An go your God like a soldier Go go to like a soldier

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ